مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۹/۰۶

# محمدرفیع څنګه د بالیوډ غوره سندرغاړی سو؟

د هغو کسانو یو اوږد لیکلړ موجود دی، چي له لاهور څخه ممبی فلمي صنعت ته تللي او هلته بریالي سوي دي.
د دغو کسانو په ډله کي یو هم مشهور سندغاړی محمد رفیع دی.

که څه هم نږدې نیمه پېړۍ کېږي، چي دغه خوږ ژبی سندرغاړی زموږ په منځ کي نه سته ،خو په سندریز ډګر کي یې نوم هغسي ژوندی او د ږغ مینه وال یې د نړۍ په بېلا بېلو هیوادونو کي زرهاوو کسانو ته رسیږي .

هغه دغه بریالیتوب ته په اسانی نه دی رسیدلی، بلکي د دې ترمخه، چي د ممبی پر هنري اسمان وځلېږي ډېري شپې یې د موسیقی په ریاضت روڼي کړي دي .

د هند د فلمي موسیقی په تاریخ کي ۱۹۴۴میلادي کال د دوو مهمو نخښو له امله ځانګړی ارزښت لري، یو دا چي په همدغه کال د موسیقي ږغوونکي نوشاد علي فلم «رتن» د سېنما پر پرده خپور سو او دوهمه دا چي محمد رفیع د ممبی په نیت لاهور پرېښود.

په ممبی کي د رفیع د اوسیدو د لومړي ځای په اړه مشهور شاعر جاوید اختر داسي وایي: «د ممبی د بهنډي بازار په ګڼ مېشته سیمه کي یوه کوچنۍ کوټه یا خونه د هغه لومړی استوګن ځای ؤ،خو هغه مهال په دې هیڅوک نه پوهېدل، چي دلته یو داسي هنرمند اوسي، چي وروسته به یې ږغ د هندوستان تر پولو واوړي
نوشاد له رسنیو سره د یوې مرکي په لړ کي وایی" یوه ورځ له کاردار پروډکشن هاوس څخه دباندي راووتم، ناڅاپه مي یوتنکی ځوان ولیدی، ځوان ماته هغه لیک راکړ، چي لکهنو ته تللي او زما له پلار څخه یې راوړی ؤ، د لیک له لوستلو وروسته مي تنکي ځوان ته وکتل، هغه ډېر عادي راته ورته ووېل: «یو چانس خو راکړه«!
هغه وخت (پهلي اپ کي نام)په نامه فلم جوړېدی، په دغه فلم کي محمد رفیع ته له «جي ام دراني او علاؤالدین سره ،چي وروسته د پاکستان مشهور فلمي ستوری سو د یوې ګډې سندري ویلو چانس په لاس ورغلی، چي د سندري مطلع یې داسي وه «موږ د هندوستان یوو، هندوستان زموږ دی.

د فلمي سندرو په اړه د سرجیت سینګ د لیکلي قاموس له مخي له یاد فلم یو کال وروسته رفیع ته یوازي د ۱۰ داسي سندرو موقع مساعده سوه، چي نیمایي سندري یې ګډې سندري یا کورس وې،خو له نوشاد سره د یوې بلي سندري ثبت ته دوه کاله سترګي په لار ؤ.

له بله اړخه طلعت محمود او مکېش نسبتا ژر د بریالیتوب منارونو ته وختل، طلعت محمود له دې وړاندي په «آل انډیا راډیو لکهنو» کي د «میر، داغ، جګر » او نورو مشهورو شاعرانو غزلونو د ویلو په سبب ډېر شهرت پیداکړی ؤ .

ممبی ته له رسېدو وروسته انیل بسواس یوه په زړه پوري سندره ورکړه، ده هم په ډېر کم وخت کي داسي چمتو کړه، چي تر ډېره وخته خلکو اورېدله، د هغې سندري مطلع داسي وه:« اې زړګیه! ما داسي ځای بوزه، چي هلته هیڅوک نه وي«.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د مکېش کېسه هم نژدې دغسې وه، انیل بسواس هغه ته د «دل جلتا هی تو جلنې دې» یوه داسې سندره ورکړه، چې د «سیهګل» غوندې لوی سندرغاړي یې هم ستاینه وکړه .
» انیل بسواس» په دې برخه کې د خپل وخت یو ځانګړی نوم لري، مګر ځوان رفیع دده «هوکړه» ترلاسه نه کړای سوه.

په دې وخت کې دلیپ کمار او راج کپور په فلمي ډګر کې د اتلانو په څېر وځلیدل، نو همدا سبب ؤ، چې رفیع، نوشاد او دلیپ کومار لکه یو هنري مثلث بېلول یې ګران کار ؤ، مګر په ۱۹۴۸مېلادي کال کې د دلیپ کمار او نوشاد په ګډ جوړ سوي فلم «مېله» کې بیا هم د سندرو مرکزي ږغ د مکېش ؤ

په ۱۹۵۱مېلادي کال کې له «دېدار» فلم څخه د ځوان رفیع د بخت ستوری وځلېدی «هوې هم جن کیلیې رسوا،نصیب درېه ترې او میرې کهانې بهولنې والې» هغه مشهوري سندري وې، چې دده د هنري لاري ډېري لوړي ژوري یې هواري کړې .
دانو هغه کلونه ول، چې شنکر جی کشن، مکېش د راج کپور لپاره په «اواره» فلم کې په داسې ډول وکاروی، چې بالاخره مکېش یومخ د راجکپور ږغ وګرځیدی .

په همدغه کال «ترانه» فلم خپور سو، چې د بسواس موسیقي او د طلعت له سوزه ډک ږغ اورېدونکي په خپل جادوکي را ونغښتل، «سینې می سلګتې هی ارمان، نین ملې نین هویې باورې اور ایک مین هو ایک میرې بې بسې» په ډول مشهوري سندري هم په «دېدار» فلم کې د نوشاد او رفیع له زیار څخه کمې نه وې، خو په ۱۹۵۲مېلادي کال کې نورو هیلو ته زړونه په هوا ول، دانو هغه کال ؤ، چې نوشاد د «آن او بېجو باورا» فلمونو لپاره موسیقي جوړوله، دا داسې فلمونه ول، چې د هغوی لپاره د مکېش او طلعت ږغونه مناسب نه ول .
د نوشاد نامي لیکوال راجو بهارتن له نوشاد څخه پوښتنه کړې وه، چې تاسو د «بېجو باورا» فلم لپاره د طلعت پرځای محمد رفیع ولې غوره کړ؟ نوشاد صاحب ورته وویل: «طلعت د غزل په هنر کې ډېر رسېدلی دی، د هغه ږغ خپل ځان ته یو ځانګړی انداز لري، نو که چیري زه د مکېش یا طلعت ږغونه غوره کړم، اړ یم چې د خپلو سندرو د کمپوز لپاره همدغه ځانګړي انداز ته مقید پاته سم، خو د رفیع ږغ بیا هر ډول موسیقی او کمپوز ته جوړ دی «.

دا هغه څه ول، چې رفیع ته یې په نورو ټولو نارینه هنرمندانو کې ځانګړی امتیاز ورکړی ؤ، ځکه ده نیمایي کلاسیکي سندري، غزل، قوالي، بجن، رومانوي او د سندرو نور ډولونه په داسې ډول ویلای سوای، چې د هر اورېدونکي پر زړه یې منګولې ښخولې.

د بېجو باورا فلم له خپرېدو وروسته د محمد رفیع د شهرت نغارې خپرې سوې، هغه نهه کاله ترمخه د یوې سندري ویلو یوازې لس هندیٔ کلداري حق الزحمه اخیستله او له دغه فلم څخه وروسته یې پر یوې سندري دومره کلداري اخیستي لکه لتامنګیشکر ته چې ورکول کېدې او هغه حق الزحمه ۵۰۰ هندیٔ کلداري وې .

نوموړي شوخي او مستي سندري هم د نیم کلاسیکو سندرو په ډول داسې ښې ویلې، چې تراوسه یې مینه وال اوري، همدا سبب ؤ، چې له دې وروسته به رفیع د هر موسیقي جوړونکي لومړی انتخاب ؤ .

محمد رفیع له خپل هنر سره د لېونی میني په خاطر ډېر پیاده مزلونه وکړل، ډېر کلونه تولیدي شرکتونو ته ولاړی راغلی، په وچه ډوډۍ یې ګذاره وکړه خو همت یې له لاسه ورنه کړ، بالاخره د هندي سندرو په ډګر کې یې داسې تاریخ وګټی، چې تر اوسه د غوره سندرغاړو په کتار کې لومړی ځای لري .

په ۲۰۱۳کال کې د هندي سینما د یوې پېړۍ د بشپړېدو په ویاړ د « سي این این» او « آی بي این» مشهورو چینلونو په همکاری «د هندیٔ سینما لوی ږغ» لپاره یوه سروې وسوه، په دې سروې کې تر ټولو ډېري رایي رفیع صاحب ګټلې وې .

پر همدې مهال د بي بي سي د اسیایي څانګي په سروې کې دده دغه سندره: « بهاروں پهول برساؤ» لومړی مقام ترلاسه کړ .
لنډه دا،چې تر څو د موسیقی او سندرو مینه وال ژوندي وي، د مرحوم رفیع ږغ به د زماني غبار پټ نه کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ